# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
| --- | --- |

دعبدالحّی حبیبی په اهتمام
ژباړونکی: درویش وردګ
۲۴ جنوری ۲۰۱۸

## السَّوادُ الاعظم- ۷

**پښتوترجمه**

**تألیف: ابوالقاسم اسحاق بن محمّد بن اسماعیل بن ابراهیم بن زید حکیم سمرقندی**

**د ۳۷۰ هجری کال په شاه اوخوا دامیرنوح سامانی په فرمان فارسی ته ترجمه شوی**

**یوولسمه مسئله**

داده: چی قرآن دخدای کلام دی نامخلوق. ځکه چی قرآن دخدای عزّوجلّ کلام (خبره) دی په حقیقت سره نه په مجاز. اودخدای کلام دخدای عزّوجلّ صفت دی. دهرچاچی صفت مخلوق وی نو هغه به هم خپله مخلوق وی. پس هرڅوک چی قرآن مخلوق اوپیداکړای شوی وبولی په خدای عزّوجلّ باندی کافردی. ځکه چی قرآن دخدای خبری دی اوباید چی مخلوق ونه ګڼل شی. چی عبدالله ابن عمررضی الله عنهما روایت کوی چی رسول علیه الصلوة والسلام ویلی: اَلْقُرآنُ کَلامُ اللهَ غیرمخلوق وَمَن قال مخلوق فَهُوَ کافِرِ بِااللهِ. وویل چی قرآن دخدای عزّوجلّ کلام دی نامخلوق، اوهرڅوک چی وایی مخلوق دی هغه کافر دی. اودری سوو تنو له صحابه و اوتابعینو اوددین له مقدمانو څخه ویلی: چی هرڅوک چی قرآن مخلوق وبولی هغه کافردی.

له امام ابوحنیفه رحمة الله علیه څخه روایت کوی چی ویلی دی: هرڅوک چی قرآن مخلوق وبولی هغه په خدای عزّوجلّ سره کافر دی.

اوهرڅوک چی په دی کی وقف وکړی، هغه به هم له دوی څخه وی او ورته وقفی ویل کیږی. اوهرڅوک چی وایی : نه یی مخلوق بولم اونه نامخلوق له هغی څخه بدتره دی چی مخلوق یی وبولی.

اوسفیان ثوری رحمة الله علیه ویلی: دوقفیانو مثال دترسایانو په شان دی چی دری ډلی شول: یوی ډلی وویل چی له عیسی علیه السلام څخه مو دمړی ژوندی کیدل ولیدل ، اودمړی ژوندی کیدل دخدای عزّوجلّ کار دی، نوهغه یی خدای وګڼلو.

بلی ډلی بیا وویل چی له عیسی علیه السلام څخه مو بندګی هم ولیدله نو بنده یی بولو.

اودریمی ډلی وویل: خدایی موتری ولیدله لکه مړی ژوندی کول، او ړوند بینا کول، اوپیس روغول، اوله ختی څخه مرغی جوړول او الوزول. اونورشیان. اوهم موتری بندګی کول ولیدل: لکه لمونځ کول اوطاعت اوخیرات کول اونور، نه یی خدای بولو اونه بنده، واقفی هم همداسی دی.

اوپوه شه: ټول هغه کتابونه چی خدای عزّوجلّ پیغمبرانوصلوات الله علیهم اجمعین ته استولی یو سل او څوارلس ۱۱۴ دی: پنځوس صحیفی شیث ابن آدم علیهما السلام ته. دیرش ۳۰صحیفی ادریس علیه الصلاة والسلام ته، شل ۲۰ صحیفی ابراهیم خلیل الله ته، لس ۱۰ صحیفی موسی علیه السلام ته مخکی له تورات څخه او تورات هم موسی کلیم الله ته استول شوی. اوانجیل یی عیسی روح الله علیه السلام ته او زبور یی داؤد علیه السلام ته اوفرقان یی محمّد رسول الله ته صلواة الله والسلام علیهم اجمعین ته استولی.

اوداتول چی موياد کړل، دهغه باری ذات کلام اوصفت دی نامخلوق اونا آفریده اوهرڅوک چی مخلوق وبولی کافردی په خدای تعالی اودخدای عزّوجلّ په لعنت کی دی.

او انس ابن مالک رضی الله تعالی عنه روایت کوی: چی رسول الله علیه الصلواة والسلام وویل: چی قرآن دخدای کلام دی اووحیی او دده تنزیل دی. اوهرڅوک چی ووایی مخلوق دی هغه کافر اوله مسلمانی بیزاره دی.

او ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی: چی رسول علیه الصلاة والسلام ویلی: چی هرڅوک ووایی: چی قرآن مخلوق دی هغه مومن ندی. اوسلمان فارسی رضی الله عنه ویلی: چی رسول علیه السلام و الصلاة ویلی: چی قرآن دخدای عزّوجلّ کلام دی، مخلوق ندی اوهرڅوک چی غیر له دی ووایی هغه کافر دی.

ابوسلیمان روایت کوی له محمد حسن څخه چی ویلی یی دی: چی هرڅوک چی ووایی چی قرآن مخلوق دی په هغی پسی لمونځ مه کوی اودهغی عیادت ته مه ورځی اوپه مړی یی دجنازی لمونځ مه کوی.

ابوذر رضی الله عنه روایت کوی: چی رسول علیه الصلاة والسلام ویلی: چی قرآن دخدای عزّوجلّ کلام دی،هرڅوک چی وایی مخلوق دی، هغه ددوزخ له اهل څخه دی، مګر که بیرته له خبری راوګرځی او توبه وکړی.

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنهما وایی: چی رسول علیه الصلاة والسلام ویلی: چی قرآن دخدای عزّوجلّ کلام دی. هرڅوک چی ووایی مخلوق دی، هغه مغ دی مګر توبه وکاږی.

اومعاذ رضی الله عنه له رسول صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوی: چی هرڅوک چی قرآن مخلوق وبولی زه له هغی بیزاره یم.

اوسعد ابن ابی وقاص رضی الله عنه وایی چی رسول علیه الصلاة والسلام ویلی: چی قرآن دعزیزغفار کلام دی. هرڅوک چی وایی هغه مخلوق دی ، لاس اوپښی اوژبه یی دی وچه شی.

اوعبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه روایت کوی چی رسول علیه الصلاة والسلام ویلی: چی هرڅوک چی ووایی قرآن مخلوق دی هغه دهری دی.

او ابو عبیده بن جراح رضی الله عنه ویلی چی رسول صلی الله علیه وسلم ویلی: چی قرآن دحی اوقیوم کلام دی. هرڅوک چی وایی مخلوق دی هغه مسلمان نه دی.

اویحیی ابن اکثم وایی: هرڅوک چی وایی قرآن مخلوق دی ؟ داسی ده چی وایی: خدای مخلوق دی اوهغه کافر اوزندیق دی.

وهب ابن منبه وایی: ما څلویښت کتابونه لوستی، له هغوکتابو څخه چی حق تعالی په څلویښتو پیغمبرانو ته استولی. هرڅوک چی په یوه حرف له هغه څخه چی په پیغمبرانو نازل شوی، مخلوق وګڼی باالله هغه له کافرانوڅخه دی. اوله

خلفاوڅخه هيڅ يوه قرآن مخلوق ندی ګڼلی، مګر مأمون چی قرآن یی مخلوق وباله او علماو هغه منع کړ، ولی ګټه یی ونه کړه.

احمد حنبل رضی الله عنه هغی ته ورغی اوحجت اودلایل یی وویل ، ولی قبول یی نکړاوامام ته یی وویل چی که ته قرآن مخلوق ونه ګڼی ستا سر به غوڅ کړم، امام رحمة الله علیه ورته وویل: ای خلیفه ! دری ورځی مهلت راکړه!وویل درمی کړ. وروسته له دریو ورځومأمون احمد حنبل راوغوښت اواحمد حنبل وویل:خلیفه ته وواییی چی بوخت (مصروف) یم. که یی وپوښتل چی په څه باندی مشغول دی؟ وواییی: چی داخلاص سوره دری ورځی کیږی چی ناروغه ده او اوس یی فرمان ترلاسه کړه اومونږ یی په ګوراوکفن باندی مشغول یو. قاصد وویل چی داخلاص سوره څرنګه مړه کیدای شی؟ احمد حنبل رضی الله عنه وویل: پس خلیفه دی نه وایی چی مخلوق دی، ځکه هرڅه چی مخلوق وی مړه کیږی او هلاکت ته رسیږی.

قاصد خلیفه ته وویل چی احمد داسی وایی. مامون یوساعت فکر وکړ او وویل: احمد راولی! احمد حنبل هم نوحه ګران( ویرلرونکی) را ټول کړل ترڅو ناری سوری وکړی. مامون پوښتنه وکړه چی دا څه نوحی دی؟ وویل چی احمد حنبل دی چی داخلاص په سوری باندی ژړاګانی کوی. څرنګه چی مأمون داحال وکوت نو توبه یی وکړه اوله دی فکره را وګرځید اوشیخ احمد ته یی نوازشونه ورکړل.

اوراوړی یی دی: چی یوقاری و په بغداد کی چی دقرآن په علم کی یی مناظره کوله او ویل یی: قرآن مخلوق دی.اوکه نه نوخدای عزّوجلّ دی هغه له ما څخه هیرکړی. په همدی حال کی یی قرآن له زړه څخه هیرشو ، اوژبه یی وچه شوه اومړ شو.

### دوولسمه مسئله

داده: چی دقبر عذاب حق دی. هرڅوک چی منکرشی معتزلی دی اوملعون. ځکه چی رسول علیه الصلواة والسلام ویلی: اَلقَبرُ رَوضَةَ مِن رِیاضِ الجَنَّةِ او حُفرَةِ مِن حُفرِ النَّیرانِ. وویل: قبرله دوو حالاتو بهرندی: یا دجنت له روضو څخه یوه روضه اویا ددوزخ له کندوڅخه یوه کنده.

په خبرکی دی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه: کله چی یی سعد په قبرکی اینود، قبرسعد داسی ټینګ کړچی اړخونه یی یوتربل تیرشول. ځکه چی په ټول عمرکی یی کالی یوځل په بولو ککړشوی و.

اورسول علیه الصلاة او السلام وویل: چی داټینګول تردی ډیرسخت وکه اویا ځله په دوزخ کی عذاب شوی وای.یاران ټول په ژړاشول او وویل: یا رسول الله! حلیت اوچاره څه ده! وویل: هرڅوک چی هره ورځ یوځل یاسین شریف ولولی خدای عزّوجلّ به هغه دقبر له عذاب څخه وژغوری.

وویل: یارسول الله! که دچا یاسین نه وی زده. وویل: چی سوره واقعه دی ولولی. اوکه یی نه وی زده هره ورځ دی سوره فاتحه ولولی. خدای پاک به هغه دقبر له عذابه خلاص کړی.

اورسول علیه الصلاة والسلام ویلی: هرڅوک چی دشپی یوځل دتبارک الذی سوره ولولی ، دقبر له عذابه به خلاص شی.

اورسول صلی الله علیه وسلم ویلی: ځانونه له بولو وساتی چی دقبرډیری عذاب له بولو څخه دی.

اورسول الله صلی الله علیه وسلم ویلی: چی دقبر عذاب له دریو څیزونو څخه دی:

یو دمسلمانانو له غیبته، دوهم له سخن چینی اودریم له بولو څخه دی.

او عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما وایی: دالله تعالی دقول په هکله: مَن اَعرَضَ عَن ذِکری فآنّ لَهُ مَعِیشَةَ ضَنّکا. وویل : دضنکا دمعشیت معنی دقبر عذاب دی.

اوپه خبرکی راغلی : چی کله سیّدة النساء حضرت فاطمة الزهرا رضی الله تعالی عنه رحلت وکړ نو ددی مبارکی جنازه یی دشپی لخوا راوړه ترڅو دنامحرم سترګی پری ونه لګیږی.کله چی شپه راغله نو حضراتو علی اوحسین اوابوذرغفاری رضی الله عنهم اجمعین دجنازی څلورڅنډی ونیولی. کله چی یی په قبرکی کښینودله، ابوذرغفاری رضی الله عنه وویل: ای قبره! پوهیږی چی څوک په تاکی ایږدی؟ فاطمه الزهرا ده درسول الله علیه الصلاة والسلام لور، دعلی مرتضی خاتونه(بی بی ) ده دحسن اوحسین مورده. دقبرله منځ څخه آواز راغی: چی ای ابوذره! زه دحسب اونسب ځای نه یم. زه دنیک کردارځای یم. هرڅوک چی ماته را دننه شی اونیک کردارراوړی نوزه به دجنت دباغونو څخه یوباغ وم. اوکه بد عمل راوړی نو مابه د دوزخ له کندو څخه یوه وګوری.

دیادشویو دلایلو څخه دلیل په لاس راځی چی دقبرعذاب حق دی. هرڅوک چی منکرشی مبتدع اوهواداره به وی.